Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

ګڼه: ۱
نېټه: ۱۴۰۳/٦/۱۷

د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت نوښت دی چــې د افغانســتان تــر ټولو مهم او وروســتي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبرپاڼې په لوستلو سره چې په درېيو ژبو (پښــتو، دري او انګليسي) چمتــو او خپرېږي، تاســو کولی شــئ د افغانســتان له وروســتيو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.



## په دې ګڼه کې لولئ:

۱. د ازبيکستان لومړي وزير کابل ته سفر وکړ

۲. د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د ۲,۵ ميليارد ډالرو په ارزښت ۳۵ تفاهمنامې لاسليک شوې

۳. د افغانستان - ازبيکستان سوداګريز فورم پرانيستل شو

٤. پکتيکا ولايت کې د پلتوني اوبو زېرمه کولو بند د جوړولو چارې پيل شوې

۵. د ستنډرډ عالي شورا په لومړنۍ ناسته کې ۲٤ ستنډرډونه تصويب شول

٦. ملي تداركاتو کميسيون د شاوخوا پنځو ميلياردو افغانيو په ارزښت پروژې منظورې کړې

۷. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د کويټ هېواد له يوشمېر پانګوالو سره وکتل

۸. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د روسيې هېواد له يوشمېر سوداګرو سره وکتل

# د ازبیکستان لومړي وزیر کابل ته سفر وکړ



د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۷مه نېټه د ازبیکستان هېواد د لومړي وزیر په مشرۍ لوړ پوړی پلاوی کابل ته راغلی و. د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیکستان لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف او د دواړو هیوادونو لوړ پوړو پلاویو د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړیکو پراختیا او له هغې ډلې د اقتصادي او سوداګریزو پروژو د عملي کار پیل په اړه بحث او خبرې وکړې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، هیله لرو چې د ازبیکستان د لوړپوړي پلاي سفر د دواړو هیوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراختیا په برخه کې ګټور تمام شي.

په مقابل کې د ازبیکستان محترم لومړي وزیر وویل، افغانستان او ازبیکستان دیني، فرهنګي او تاریخي مشترکات لري او جمهور رئیس میرضیایف تل د دواړو هیوادونو ترمنځ د ښو او دوستانه اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار کوي.

همدارنګه محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت د سُرخان - پلخمري - کابل د ۵۰۰ کیلو ولټ د هغې برېښنایي پروژې هرکلی کوي چې ازبیکستان یې افغانستان ته ځغول غواړي په دې سره به د ازبیکستان برېښنا افغانستان ته د اړتیا مطابق انتقال ومومي. خو له دې پروژې سره که ځینې سب سټېشنونه او لینونه نه رغول شي، کېدلی شي د دې پروژې مؤثریت هومره نه وي څومره چې یې تمه کېږي ځکه چې له دغو سب سټېشنونو او لینونو پرته افغانستان د برېښنا د جذب لپاره اړینه زېربنا نه لري.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، یادې پروژې که له یوې خوا تجارتي وده راولي له بلې خوا به د دواړو هېوادونو د سیاسي او اقتصادي اړیکو په پراخۍ کې رغنده رول ولري. افغانستان تیار دی چې د افغانستان د برېښنا د جذب د ظرفیت لوړولو او د ازبیکستان د برېښنا اخیستلو لپاره له یاد هېواد سره په ګډه کار وکړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پرمهال وویل، لکه څنګه چې سویلي آسیا او له هغه طریقه خلیج او عربي هېوادونو ته د ازبیکستان د صادراتو لپاره افغانستان د ټرانزیټ اسانتیاوې رامنځته کړې دي، له ازبیکستان څخه هیله لرو چې د منځنۍ اسیا هېوادونو او روسیې ته د افغانستان د صادراتو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي تر څو افغاني توکي اړمن مارکېټ ته لاره پیدا کړي. په دې اړه زموږ وړاندیز دا دی چې راځئ دواړه لوري د تجارت او ټرانزیټ په لاره کې د خنډونو د لرې کولو په موخه هر اړخیزې خبرې وکړو تر څو افغان توکي په ځانګړې ډول کرنیز محصولات د منځنۍ اسیا او روسیې مارکېټ ته لاره پیدا کړي او د جنوبي اسیا او عربي هېوادونو مارکېټونو ته د ازبیکستان په صادراتو کې زیاتوالی راشي.

محترم عبدالله عارف اوف څرګنده کړه، په ازبیکستان کې د افغانستان د نوي سفیر د رسمي کار د پیل په اړه مثبت تصمیم نیول شوی او دغه مسئله به ډېر ژر اعلان شي. همدارنګه داړ درکوم چې له افغانستان سره تولې ترسره شوي موافقې عملي کېږي؛ د مسو او ډبرو سکرو کانونو د استخراج په برخه کې به په افغانستان کې پانګونه وکړو، دغه راز چمتو یوو چې د اوبو د سپما په برخه کې هم افغان متخصصین ورزوو.

د ازبیکستان لومړي وزیر وویل، د کرنیزو تخمونو د اصلاح او ښوالۍ په برخو کې زموږ همکاري له افغانستان سره دوام لري او چمتو یو خپلې تجربې له افغان کروندګرو سره شریکې او هر کال د سلو په شاوخوا کې متخصصین د هوایي چلند او رېل پټلۍ په

برخو کې ورزوو.

همدارنګه د اوبو او برېښنا، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، ټرانسپورټ او هوايي چلند او کانونو او پټرولیم له خپلو ازبیکستاني سیالانو سره د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د اقتصادي او ترانزیټي اړیکو د پیاوړتیا په برخو کې د لا زیاتو اسانتیاوو په رامنځته کولو او په دې برخه کې د خپلو اړوندو ادارو پر کړنو خبرې وکړې.

وروسته د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیکستان د لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف په حضور کې د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د همکارۍ پنځه سندونه د افغانستان صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر محترم نورالدین عزيزي او د ازبیکستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر له لوري لاسلیک شول.

په همدې ترتیب د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ، کانونو او پټرولیم وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او د ګمرکونو لوی رئیس له خپلو ازبیکستاني سیالانو سره د همکارۍ تفاهمنامې لاسلیک کړې.





# د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ
# د ۲,۵ میلیارد ډالرو په ارزښت
## ۳۵ تفاهمنامې لاسلیک شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیکستان لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۷مه نېټه د افغانستان د نړیوال نندارتون په مرکز کې د ۲,۵ میلیارد ډالرو په ارزښت ۳۵ تفاهمنامې لاسلیک شوې چې په لاندې برخو کې وې:

**د کانونو په برخه کې ۵ تفاهم‌نامې لاسلیک شوې چې مجموعي ارزښت یې ۱,۱۵ میلیارد ډالرو ته رسېده، عبارت دي له:**

۱ د افغان- تاجک نفتي حوزه کې د هایدرو کاربن کان جیولوژیکي سروې

۲ د فاریاب ولایت د طوطي میدان په سیمه کې د ۱۲۰ میګاواټه ګازي برېښنا پلانټ جوړول

۳ په فاریاب ولایت کې د طوطي میدان حوزه کې د ګازو او تېلو زېرمو جیوفزیکي او جیولوژیکي سروې

۴ د بامیان ولایت په هیش سیمه کې د اوسپنې کان جیولوژیکي سروې

۵ د زابل ولایت قندلان سیمه کې د مس او سرو زرو کان جیولوژیکي سروې

## د برېښنا په سکټور کې د ۲۷۰ میلیون ډالرو په ارزښت پروژو قراردادونه لاسلیک شول چې عبارت دي له:



۱ په افغانستان کې د برېښنا شبکې جوړول

۲ له ازبیکستان څخه افغانستان ته برېښنا انتقال

## د کرنې په برخه کې هم د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ پروژې لاسلیک شوې چې عبارت دي له:



۱ په افغانستان کې په ۱۰۰۰ هکتاره ځمکه د وریجو، پنبې، افتاب پرست او غنمو کرل

۲ د خاورې د معاینې ګرځنده لابراتوار جوړول

۳ د ازبیکستان په هېواد کې د افغان پانګوالو په مرسته د افغاني زعفرانو کښت

۴ د افغانستان او ازبیکستان د کرنې وزارتونو ترمنځ د اقلیمي تطابق په نظر کې نیولو سره د سترو او کوچنیو ښکر لرونکو حیواناتو تبادله

۵ د افغانستان د تازه او وچو میوو، سبزیو او دال لپاره په ازبکستان کې بازار موندنه

۶ د ازبیکستان د کرنې وزارت له لورې په مسلکي ډول د ۲۰۰ افغان بزګرانو روزنه

۷ د نباتي غوړیو واردات

۸ ازبیکستان ته د مختلفو د کرنیزو محصولاتو انتقال

## د ازبیکستان د سهامي شرکت او افغان شرکتونو ترمنځ د ۷۸.۲ میلیون ډالرو په ارزښت د کیمیاوي سرې په برخه کې د ۱۱ تړونونو لاسلیک کېدل

## د ازبیکستان د ساختماني موادو له اتحادیې سره د ۱۲۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د سمنټو فابریکې جوړولو قرارداد

د یادو تفاهمنامو د لاسلیک په مراسمو کې د دواړو هېوادونو مسوولینو او د خصوصي سکټور استازو هم حضور درلود. په دغو تفاهمنامو کې د ۱،٤ میلیارد ډالرو په ارزښت ۱۲ د پانګونې او همدا راز د ۱،۱ میلیارد ډالرو په ارزښت ۲۳ سوداګریزې تفاهمنامې شاملې دي، چې په پلي کېدو سره به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې پیاوړې او د سوداګرۍ په کچه کې به د پام وړ زیاتوالی راشي.

# د افغانستان – ازبیکستان سوداګریز فورم پرانیستل شو

د ریاســتالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیکستان د لومړي وزیر عبدالله عارف اف له لوري د روان ۱٤۰۳ لمریز کال د اســد میاشتې په ۲۷مه نېټه د افغانســتان – ازبیکســتان سوداګریز فورم چې د افغانســتان نړیوال نندارتون په مرکز کې جوړ شوی دی، پرانیستل شو. د یاد سوداګریز فورم د پرانیستې پر مهال د دواړو هېوادونو مســوولینو او د خصوصي ســکتور استازو هم حضور درلود. د یادونې وړ ده چې پــه دې نندارتــون کــې شــاوخوا ۲۰۰ ازبیکستاني سوداګرو په ۳۰ سکتورونو کې د ماشینرۍ، روغتیایي توکو، الکترونیکي وسایلو، بېلابېلو موټرو، د اور وژنې اطفائیې، ټراکټورونــو او غالیــو پــه ګــډون بېلابېل محصــولات د درېیو ورځو لپــاره نندارې ته وړاندې کړي وو.




# پکتیکا ولایت کې د پلتوني اوبو زېرمه کولو بند د جوړولو چارې پیل شوې

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغنــي برادر اخونــد د روان ۱٤۰۳ لمریز کال د اســد میاشــتې په ۲۹ نېټه په پکتیکا ولایت کې د پلتوني بند د چارو د پیل پرانیسته وکړه. په همدې موخه جوړو شوو مراسمو کې د اوبو او انــرژۍ محترم وزیر مــلا عبداللطیف منصــور، د دغــه ولایت علماوو، ســوداګرو او یوشمېر امارتي مسوولینو ګډون درلود.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال جوړو شویو مراســمو ته په خپله وینا کې وویل، اســلامي امارت دا درک کــړې ده چې د پیاوړي اقتصاد لپاره زراعت او د زراعت د پرمختګ لپاره اوبه تر ټولو مهمې دي. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت د اوبو مدیریت په خپلو لومړیتونو کې نیولی او پر پانګوالو یې غږ کړی چې د اوبو د مدیریت په برخه کې پانګونه وکړي.

د اوبو زېرمه کولو دا بنــد چې د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري یې ډیزاین ترسره او مالي لګښت چې شاوخوا یو میلیارد افغانۍ اټکل شوی دی ورکــول کیــږي، ودانیزې چارې یــې د ملي پراختیا شرکت له لــوري د دوه نیمو کالونو په موده کې بشپړیږي.

د پلتوني په نوم دا بند چې ۳۰متره لوړوالی، ۲٤۷ متره اوږدوالــی او ۱۳٤ متره پلنوالی به ولري، د پکتیکا مرکز شــرنې ښار په ۱۲ کیلو متری کې، د کرنې او د څکمو خړوبولو لپاره د موسمي اوبو د زېرمه کولو په موخه جوړېږي.

دا بند د ۲۵ میلیون مترمکعب اوبو زیرمه کولو ظرفیت لري او له جوړېدو وروســته به شاوخوا ۲۵۰۰هکتاره ځمکه خړوبه او ۹۳۵ کیلو واټه بریښــنا به هم تولید کــړي. د پلتوني بند په جوړېدو سره به سلګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه هم برابره شي.



## د سټنډرډ عالي شورا په لومړنۍ ناسته کې

# ۲۴ سټنډرډونه تصويب شول



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا لومړنۍ غونډه د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په ۳۰مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شــوه. په دغه غونډه کې د سټنډرډ ملي اداري عمومي رئيس ملا فيض‌الله تميم، د دغه شــورا دايمي غړو او د خصوصي سکتور استازو هم حضور درلود. محترم مــلا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې تــه د خپلو خبرو پر مهال وويل، افغانســتان د اقتصادي ودې او پراختيا په برخه کې لومړني او ابتدايي گامونه اخلي، چې اړتيا ده د سيمه‌ييزې او نړيوالې سيالۍ لپاره د ملي او نړيوالو معيارونو سره سم محصولات او خدمات وړاندي کړي. د محــترم ملا صاحب پــه خبره، ســټنډرډونه د محصولاتــو او توليداتــو د کيفيــت او اعتبار تضمينوونکــي دي څو په ملي، ســيمه‌ييزو او نړيوالو بازارونو کې سيالي وکړي او په نړيواله کچه ومنل شي. د محترم ملا صاحب په خبره، هر ســټنډرډ چې موږ يې په افغانســتان کې تصويب او پلــي کوو، په حقيقت کې د هېواد د اقتصادي ودې او دوامداره پراختيا سره اساسي مرسته کوي.

دې غونډې ته د سټنډرډ ملي ادارې د تخنيکي کمېټې له لوري ۲۴ نوي ســټنډرډونه د بحث لپاره وړاندې شــول د دغو سټنډرډونو له جملې ۱۴ د مشــخصاتو او ۱۰ د ازموينې لارو چارو اړوند دي چې تر هراړخيز بحث وروسته تصويب وشــوه، څو ياد سټنډرډنه په ښه ډول تطبيق، د ســټنډرډ ملي اداره يې وخت پــر وخت خارنه ترسره او خپل راپور د ســټنډرډ عالي شــورا له مشرتابه سره شريک کړي.

دغه سټنډرډونه د خوراکي، ساختماني، نفتي، کيمياوي او پلاستيکي توکو او همدا راز نساجي اړوند دي. پر دې سربېره د سټنډرډ ملي ادارې د تخنيکي کمېټو له لوري د ۳ سټنډرډونو په اړه بياځلي کتنــه هم ترسره شــوې ده چې پکې راغلی تعديل يې هم د ســټنډرډ عالي شورا له لوري تصويب شو.

د ســټنډرډ عالي شــورا له لوري تصويب شوي سټنډرډونه د هېواد په اقتصاد او سوداگرۍ کې خورا ډېر ارزښــت لري. دغه ســټنډرډونه ملي، ســيمه‌ييز او په نړيواله کچــه دي چې د ټولو ماخذونه نړيوالې معتــبرې او ټولو هېوادونو ته منونکې سرچينــې دي. له شــک پرته د دغو ســټنډرډونو په عملي کولو سره به په خوراکي، ساختماني، نفتي، کيمياوي او پلاستيکي توکو او همدا راز نســاجي اړوند برخو کې د مشخصو شــوو توکو صادرات د نــورې هېوادونو ته زيات شي، ځکه چې په معيار او سټنډرډ به برابر وي.

افغانســتان اوســمهال د ســټنډرډ د نړيوالو ســازمانونو لکه (ISO)، (SARSO)، (SMIIC)، (ILAC) او (IEC) غړيتــوب او د ســټنډرډ د نړيوالو سازمانونو په ناستو کې فعال حضور لري، چې د يادو ســټنډرډونو په تصويب سره به يې موقــف لا پيــاوړی او په نړيواله کچــه به يې د سوداگرۍ اعتبار هم قوت پيدا کړي.

افغانســتان به د يادو سټنډرډونو په تطبيق سره وتوانېږي چې د ســوداگرۍ کچې پراخولو لپاره مثبته سيالي وکړي، ځکه سوداگري هغه وخت پيشرفت کولی شي چې توليــد او محصول په سټنډرډ برابر وي. کابل د سيمې په منځ کې د ســوداگريز او ترانزيټي پُل حيثت لري چې ياد سټنډرډونه به يې دغه حيثيت لا پياوړی کړي.



# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا پنځو میلیاردو افغانیو په ارزښت پروژې منظورې کړې

د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د اسد میاشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۴۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۳۱ پروژو قراردادونه منظور، د ۷ تعدیل، د یوې لغوه او د یوې پروژې د قرارداد د قیمت په اړه اړوند ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له قراردادي شرکت سره بیاځلي مذاکرات ترسره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي.

په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې په بادغیس ولایت کې د آبګردان ذخیروي بند د پاتې چارو بشپړول، د نغلو برېښنا د تولیدي فابریکې د یو توربین بیارغونه، په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا اړوند وسایلو چمتو کول، هېوادوالو ته د باکیفیته او چټکو مخابراتي او انټرنېټي خدمتونو وړاندې کول، د هېواد په بېلابېلو ګمرکونو کې د خدماتو وړاندې کول، د بادغیس ولایت په قلعه نو ښار کې د اوبو رسولو لویې شبکې بشپړول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال
## د کویټ هېواد له یوشمېر پانګوالو سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د سنبلې میاشتې په لومړۍ نېټه په خپل کاري دفتر کې د کویټ هېواد له یوشمېر پانګوالو سره وکتل. په دغه لیدنه کې د اوبو او انرژۍ وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور هم حضور درلود.

د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو په افغانستان کې پر پانګونې او د سوداګرۍ په اړه خبرې وکړې. د کویټ هېواد پانګوالو وویل، افغانستان اوسمهال د پانګونې لپاره په یو مناسب هېواد بدل شوی او دوی لېواله دي چې دلته په مختلفو برخو پر پانګونې سربېره د سوداګرۍ په برخه کې هم فعالیت وکړي. یادو پانګوالو زیاته کړه، دوی غواړي چې په افغانستان کې د هغو مرستو لپاره هم یو پیاوړی بنسټ جوړ کړي چې د اسلامي

هېوادونو د ملتونو له لوري ورکول کېږي تر څو د دوی په خبره، دغه بنسټ به له اسلامي امارت سره په همغږۍ يادې مرستې د بېوزلو افغانانو په لاس نيوي او پراختيايي برخو کې لګوي چې له امله به يې نوي کاري فرصتونه او د زېربنا په برخه کې پرمختګ رامنځته شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په افغانستان کې د کويټ هېواد د پانګوالو له پانګونې، دلته د سوداګرۍ په برخه کې له فعاليت او همدا راز په پراختيايي برخو کې د يو قوي بنسټ د رامنځته کېدو هرکلی وکړ او دوی ته يې ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت يې پوره همکاري او ملاتړ کوي.

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال

## د روسيې هېواد له يوشمېر سوداګرو سره وکتل



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د سنبلې مياشتې په لومړۍ نېټه په خپل کاري دفتر کې له يو شمېر روسي او افغان سوداګرو سره وکتل او د سوداګرۍ او پانګونې په اړه يې خبرې وکړې.

د ليدنې پرمهال د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په خپلو خبرو کې وويل چې افغانستان دا مهال د سوداګرۍ او پانګونې له پاره زيات فرصتونه لري او کورني او بهرني سوداګرو او پانګوال کولای شي دلته پانګونه وکړي. محترم حاجي ملا صاحب زياته کړه افغانستان سره له دې چې يو بې وزله هېواد دی، خو د طبيعي سرچينو له پلوه يو غني هېواد دی او د پانګونې له پاره ښه فرصتونه شته دي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په خبره چې دوی تل له کورنيو او بهرنيو پانګوالو غوښتي چې افغانستان ته راشي او په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي او يا هم د سوداګرۍ په برخه کې خپل فعاليتونه پرمخ بوځي.

ورپسې روسي سوداګرو د افغانستان په بېلا بېلو برخو په ځانګړې ډول صنعت سکټور کې پانګونې ته لېوالتيا ښوده او ويې ويل چې دوی غواړي د سوداګرۍ په برخه کې خپلې همکارۍ له افغان سوداګرو سره زياتې کړي.

په پای کې د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند روسي او افغان سوداګرو ته د اسلامي امارت له لوري د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او له دوی څخه يې وغوښتل چې په افغانستان کې د مارکېټ له ارزونې وروسته دې خپلې چارې په امن فضا کې پيل کړي.

